آصف بهاند

# د روسيې المپيک او د نشې المپيک

(مډالونه او دودونه)

کومه انګيزه چې زه يې د دې کرښوليکلو او د پاسني سرليک غوره کولوته وهڅولم، هغه دا وه، چې د BBC د پښتوويبپاڼې د انځورونو په برخه کې مې په داسې عکسونوباندې سترګې ولګيدې چې د ليدلو او زغملونه وو.دا په افغانستان کې په نشو روږدي ماشومان او د هغو د ميندوعکسونه وو:

http://www.bbc.co.uk/pashto/multimedia/2014/02/140210_hh-mother-drugs-babies.shtml

او په دا سبا ورځ يې دوې پرله پسې ورځې په همدې پاڼه کې د سوچي د المپيک د لوبوعکسونه:
http://www.bbc.co.uk/pashto/multimedia/2014/02/140210_st-sochi-2014-gallery.shtml

http://www.bbc.co.uk/pashto/multimedia/2014/02/140211_st-sochi-olympic-tuesday.shtml

د دې دواړو البومونو په منځ کې له هره اړخه دومره واټن شته چې ښايي د نوري کلونو په اندازه وي.
کله چې په ۲۰۱۲ کال په اوړي کې په لندن کې د المپيک لوبې روانې وې، ما د «د لندن المپيک او د جګړې المپيک»(مډالونه اوبمونه) ترسرليک لاندې يوه مقاله وليکله چې په همغه وخت په ځينو ويبپاڼوکې خپره شوه:
http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/bahand_assef_de_landan_olympic.pdf

په هغې مقاله کې په افغانستان کې روانه غميزه اوله هغې څخه نورې راپيدا شوې ستونزې انځورشوې وې؛دا مقاله هم د هماغې مقالې د بلې برخې په توګه د روسيې المپيک او د نشې المپيک (مډالونه او دودونه) تر سرليک لاندې درنولوستونکو ته وړاندې کوم.
«د لندن المپيک او د جګړې المپيک» مقاله کې ما ليکلي ووچې په لندن کې د لوبو ګټوونکوته د سرو زرو مډالونه په غاړه کې وراچول کيږي، مګر په افغانستان کې ماشومانو او ځوانانوته انتحاري واسکټونه اوبمونه ورله غاړې کيږي او د جنت په تمه د ګورتياروته ليږل کيږي د سوچي په المپيک کې هم عين لوبه روانه ده.په سوچي کې هم ګټونکووته لکه لندن د سرومډالونه ورپه غاړه کوي، خو د افغانستان د دود اونشې په المپيک کې ګټونکو اونه ګټونکو دواړوته د دود اونشې کړۍ ورله غاړې کيږي اوپايله خويې تولوته ښکاره ده چې څه کيږي.
که په ربښتيا سره ځيرشو، له ۲۰۱۲کال نه تر اوسه په المپيک والاهيوادنو کې حالات د خلکو په ګټه په سمه لار روان دي، خوپه افغانستان کې نورهم بد تر شوي دي او د جګړې د المپيک ترڅنګ د نشې اودود المپيک هم خپل اوج ته رسيدلای دی.
په لندن کې، په سوچي کې په ټوله نړۍ کې حالات بدل شوي دي اوپه افغانستان کې هم؛يوازې په دې توپيرچې په لندن، سوچي او نورو ځايونو کې په مثبته خوا بدل شوي دي اوزموږ په هيواد کې په منفي لورې روان دي. په ټولوځايونوکې د نوې تکنالوژۍ له وروستيومظاهرونه استفاده کيږي، په هرځای کې د ژوند د ښه کولو اوآبادۍ له پاره، خو زما په وطن کې د ژوند د خرابولو او بربادۍ له پاره. نوروځايونوکې له وروستۍ تکنا لوژي نه په استفادې سره د المپيک له پاره نوی ښار، نوې لارې او نوي ځايونه جوړيږي، خوزما له وطن نه د ټول جهان پوليګون جوړکړای شوی دی اود نړۍ وروستی ماډل وسلې په کې آزميل کيږي.
دا چې يوځای څه کيږي اوبل ځای څه، دا ټوله نړۍ په سترګوويني؛ مګرزما هيواد والو ته له يوه آدرسه چيغې وهل کيږي چې:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولـئ

«رى مه وهئ، دوى کفار دي، همدا د دوى دنيا ده او...»
په دې ډول يې په خامو تارنو باندې ترې او سم دم يې په هم دې دنيا کې، د مځکې پرسر دوزخ ورته جوړ کړى دى او پرته له ګناه اوخطا نه يې په کې سوځوي.
په افغانستان کې د جګړې المپيک په خپل اوج کې روان و، چې ورسره سم د دود او نشې المپيک په زياتيدوشو. د جګړې د اورخوراک د افغانانوغوښې، وينې اوهډوکي وو؛اود دود اونشې المپيک هم د افغانان د ژوند په بيه تماميږي.
په افغانستان کې د رواني تېل شوې جګړې په پايله کې، پردې وطن باندې رنګارنګ سونامي ګانې راغلي دي چې يوه يې په نشه اي توکو د اخته کيدو سونامي ده. د ميډيا د راپورونو له مخې اوس د افغانستان د يوميليون په شاوخوا کې وګړي په نشه اي توکو اخته دي. له بده مرغه په ديرشوميليونوکي يوميليون لويه سلنه ده اوډيره خواشينونکي ده چې پرافغانستان باندې د نورو پرله پسې سونامي ګانو په څنګ دا هم لويه ورانونکې سونامي ده.
په دې يوميليون کې به ډيره کمه سلنه د هوس د نشې له لارې د تباهۍ دې لوى ډنډ ته ورننوتي وي، خو ډيره برخه سلنه يې د جبرنشه ده خوارى او په ناپوهۍ کې ډوب افغانان په نه پوهيدنه کې ورپوري وهل شوي دي. په ټول کې د ټولنې هراړخيز وروسته پاتې والى اوپه ځانګړې ډول د سواد نه شتوالى، په خلکوباندې د پخوانيو زړوقوانينو او رواجونوحاکميت، د سياسي ثبات نه شتوالى، د دولت اوخاصتاً د حکومت بيخي ضعف، دوامداره بيکاري، په کورنيوکي د رنګارنګ ستونزو موجوديت او... اويا يې هم له بهر نه له ځان سره د يوه سوغات په ډول راوړل.چې هره برخه يې د جلا څيړنې او ژړا وړ ده.
دا هغه سونامي ده چې له پخوا زمانوڅخه د افغانستان پرخلکو راماته شوې ده، خو اوس خپل اوج ته رسيدلې ده.د نشه اي توکو د کارولو دغه سونامي د کورنيوله ټبوزلى نه راپيل شوې ده.مور د ټولنيزې ناپوهۍ او بې سوادى د بلا دشته والي په سلسله کې، پرته له دې چې د نشه اي توکو د کارولو په پايلوباندې پوه شي، خپل ماشوم د دې له پاره نشه کوي چې دا خپله کارته وزګاره شي، يا به غوجل پاکوي، يا د کورکارونو ته اړم وي او له ټولونه مهمه دا چې خپله ترټولو مهمه وظيفه يعنې د قالينو اوبدل هير نه کړي.
په ښاري ژوند کې تر دې هم د ژاړه اوتأسف وړ غميزې سره مخ کيږو. مور، ماشوم ته نشه اي توکي ورکوي چې بې سده شي، لکه د کوما د حالت ناروغ بې حاله پريوزي چې د خلکوپام اوزړه سوى ورته واوړي،اوپه دې ډول يې مور د همدې بې حاله ماشوم او څو نورو بچو روزي ترلاسه کړاى شي.هرورځ په دې ماشوم باندې دا کار تکرارېږي. ښځه نشه يې توکي اول خپله کش کوي او بيا يې لوګى د ماشوم خولې اوپزې ته ورپوکوي، د وړوکي ماشوم واړه حجرات د نشوپه څپوکې داسې په خوب ويده کوي چې لس پنځه لس ساعته ونه ښوري او وروسته له څه مودې هغه ماشوم لا په هماغه کوچنيوالي کې داسې په مخدراتو روږدى شي چې بيا يې را اړول مشکل نه، بلکې ناشونې وي.
بس دا يوه جمله ده: د ماشوم پلارنه شته، وژل شوى او...
په دې کور، کوڅه کلي، ښار، هيواد، سيمه اولاټوله نړۍ کې د بشرد حقوقو په دې لويه هنګامه کې د ديموکراسي بې بې په دې لوى جنتي بڼ کې داسې څوک نه شته چې پوښتنه وکړي چې دا ګدا ميرمن چې له غيرتونو؟سره سره لاس غځوي خيرغواړي، د چا ښځه ده؟دا پروت نشه کړاى شوى ماشوم د چا زوى يا لورده؟ پلاريې چې وژل شوى، ولي وژل شوى؟ د چا او څه له پاره وژل شوى؟ او چا وژلى؟ او نورډيرداسي ولې، ولې او ؟؟؟؟؟؟
د دود اونشې دغه المپيک زموږ د وطن په هرکلي کوڅه او ښارکې دا ډيره موده روان دى؛ خوهلته لرې په نوره دنيا کې چې زموږ د وطن په هرکلي اومالت کې هغوته کفار او د کفارو وطن ويل شوى او ويل کيږي، څه نورې کيسې اولوبې رواني دي. هلته هڅه کيږي چې د نشې د المپيک مخه ونيول شي، ژوند اوآرام ته د تګ په لورې سيالى رامنځ ته شي، چې ښه مثال يې همدغه د روسيې د سوچې المپيک دى.
ښايي دا تصادفي پيښه وي چې هغه هيوادونه چې په دې وروستيوکې د المپيک لوبو کوربانه وو اودي، زموږ د هيواد په روانو سياسي او نظامي پيښوکې مرکزي اومنفي رول درلود اولري يې؛ خو زموږ د خلکو او ټولنې د سواد د سطحې ټيټ والى، ناپوهي، د سياسي رهبرانو جفا او د دوى خرڅيدل... او د خلکو او ټولنې په ذهنونوباندې حاکم افکارهم د هيرولو نه دي.
نوره نړۍ څه کوي اوموږ څه کوو؟
په انګلند کې د لندن المپيک، په افغانستان کې د جګړې المپيک
په روسيه کې د سوچي المپيک، په افغانستان کې د نشې او دود المپيک


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په نوره دنیا کې د تکنالوژۍ، دژوند د ښه کیدو او عصري کیدوالمپیک،
خو زما په وطن کې د جګړې المپیک، د بربادۍ المپیک، د نشه اي توکو د رواجیدو المپیک، د بیسوادۍ د زیاتیدو المپیک، جهالت ته د ورننوتوالمپیک، له تکنالوژۍ اوتمدن نه دتښتیدوالمپیک روان دی او ورځ تربلې زورهم اخلي او موږ ورته هره ورځ د «الحمدلله» په ویلوسره شکرونه هم باسو.
زموږ ټولنه او خلک چا داسې کړه اوځه باید وشي؟
د سوچي د المپیک لګښت دیرش میلیارده پونډه شوی دی، نوی ښار، نوې لارې او نوي ځایونه ورته جوړشوي دي، او د همدې المپیک په پایله کې ګټونکوو لوبغاړوته د خندا اوخوښۍ په ځپوکې د سرو، سپینو او برونزو مډالونه ورکول کیږي،
خوزما په وطن کې د مخدراتو ا ودود المپیک په لړ کې په ډیر انصاف؟ سره پرته له توپیرڅخه ټولو ګډونکونکوته د مرګ، توروخاورو او د ګور د تیارته د تګ ډالۍ، د ژړا په ځپوکې ورکول کیږي.
د دې دواړ المپیکونو ګډ ټکی یوازې د «المپیک» په توري کې دی، نورکاملاً په هرڅه کې یو د بل په مقابل دریځونو کې ولاړدي.په سوچي کې د خندا اومینې په ځپوکې د ویاړونو مډالونه ورکول کیږي، خوپه افغانستان کې انسانان د ژوند کولو کوم سند اوحق چې خدای ورکړی دی، هغه ورنه اخستل کیږي، هلته ګټونکي خپل وطن ته د ویاړ مډالونه وړي زما په وطن کې ټول مړه دي، یوشمیریې خوځیدونکي مړي او یو شمیریې نه خوځیدونکي مړي.خوځنده مړي، نه خوځیدونکي مړي د ګورونو په لوري کشکاږي او...؛
په نورو وطنونو کې د راتلونکو سیالیو له پاره ځای او وخت ټاکل کیږي اوزما په وطن کې د عادي ژوند کولو د امید زړی په بیخ کې وچیږي.اودقیقاً په همدې وخت کې زما د وطن د نوي نسل د بربادۍ د بنسټ ډبره ایښودل کیږي.
د سوچي المپیک خو د۲۰۱۴ کال د فبرورۍ په درویشتمه خلاصیږي، خوزما په وطن کې د نشې المپیک، لکه نه تمامیدونکې خواشیني، نه یوازې نه خلاصیږي، بلکې ورځ تربلې یې دوحشت ځپې پراخیږي.
چیرې کوم جهادي مشرڅخه، کوم ژورنالست پوښتنه کړې وه چې په اسلام کې خومخدرات نا روا دي، تاسویې ولې تبلیغ اوکاروبارته زور ورکړی دی؟
هغه په ځواب کې ورته ویلي و چې موږ د همدې په مټ له کفاروسره زور وهو، دوی موږ په مرمیو وژني،موږهم دغه مخدارات ورلیږو.
ما(آصف بهاند) په خپل یوشعرکې د دې ښاغلي؟ رهبردې خبرې ته په پام سره موضوع ته داسې اشاره کړې وه:
«دوی دې وژني زموږ ځني په مرمیو موږیې وژنو په یو دود باندې ځوانان »
خواوس خبره تریوې اندازې سرچپه شوې ده، هغه داسې چې زموږ د ناپوهۍ په وجه دود او مرمۍ دواړو موږ ته مخه کړې، زموږ په کور کې میلمانه دي.مرمیوسوري سوري کړو او دود موسترګې اوذهن داسې رافیصله کړي دي چې د تمدن په کاروان پسې رسیدل څه چې په ټپه یې درولي یو، بیخ او ریښه یې را وچه کړې ده.
د دغې بربادۍ ریښې په نیغه د ټولنې په ناپوهۍ اوبیسوادۍ کې اوپه زړوافکاروباندې د خلکو باور او دریدلوکې ریښې لري.که څوک وایي چې انتخابات مخکې دي،نوی حکومت اودهغه کاري تیم به دحل کومه لارپیدا کړي او... داهسې خیال پلونه دي، د شخص بدلیدل هیڅ هم نه شي کولای، زما په نظراصلي چاره د نظام،رواني پالیسۍ او ورسره د کاري ټیم بدلول دي.باید نا کاره، فاسد په زړوتارونو او زړوقوانیونوکې نښتی نظام بدل شي او ورسره سم د نوي متمدن نظام په رڼا کې نوی ښوونیز نظام رامنځ ته شي او د نویونړیوالومنل شویوقوانینوپه چوکاټ کې نوي نسل وروزل شي.اوپه پای کې بیا هم د حسن اختتام په ډول د استاد ګل پاچا الفت خبره را اخلم:
«کوچنیان باید په علم پسې ولاړ شي او د علم رڼا له ځان سره راوړي»
پای
۱۶/۰۲/۲۰۱۴


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ